# د ډاکټر دیدار یوسفزي په شعري مجموعه "شوکانې" کښې شهرآشوب

## *Shahre Ashoob* (a city struck by catastrophes) elements in Dr. Didar Yousafzai's poetic work *Shokanay*

پروفیسرعطاء الرحمان عطاء 1
نګینه بي بي 2

**Abstract:**

Shehri Ashoob, an established sub-genre in the Oriental poetic tradition as one can find several examples of this type in the eastern literature. Similarly, this sub-genre has found a distinguished expression in the Pashto poetry, both old and contemporary. In this form of poetry, the reader can find a clear and real picture of city's social decline, political chaos, economic crisis and moral degradation. Such type of poetry depicts and records a comprehensive and dynamic understanding of the contemporary period. In modern Pashto poetry, reflection of such poetry can be found in abundance as the Pashtun Belt is faced with similar circumstances. It is therefore natural for any Pashtun poet to receive imprints and, as a result, reproduce them in their poetry. Dr. Didar Yousafzai is one of the well-known poets of the contemporary times. His "*Shokanay*" is a representative work where poems/elements of the Shehre Ashoob type can easily be found. This present paper objectively analyses the afore-mentioned work and convincingly extracts the expected results.

**Key Words:** Dr. Didar Yousafzai, *Shokanay*, modern Pashto poetry, Shehre Ashoob.

---

1. Assistant Professor of Pashto Govt. Jahanzeb College Swat.
2. Lecturer Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

شاعري د انسان د داخلي احساساتواوجذباتو په رنګ کښي رنګ زړۀ راښکونکي خوږه،پسته ،نازکه او تازه نغمه ده- د تخئيل زړونه وړونکي ګډا اونڅاده.دخيالونو د خوبونو د ګلبڼونونو د سېل په ګلاب ګلاب لفظونو او وړمه وړمه اسلوب ليکلي شوي قصه ده. د شعوراوادراک درڼا رڼا واديانو روښانه او رڼه تذکره ده ــ نغمي دي چي غبرېږي ،وږمي دي چي خورېږي ادراک دے چي ويښېږي او دشعور پلوشي دي چي ګډېږي ــ

شاعرئ د شاعر د داخلي کېفيتونو ململين ،مهين ،ګلورين ،رنګين او پلوشين اظهاردے. د خارجي معروضي حالاتو داسي سوچه ،سپېڅلے ،روڼ حقيقي اوريښتونے عکس دے چي د داخل او احساس په بي رويه او بي ريا قلم راښکلے شوے دے . د معنواومفهمونوسمندردے . د موضوع او مضمون نزاکت ،لطافت اونفاست دے چي د ګل ګل،چاڼ کړو او متوازنو لفظونو او ترکيبونو په کالو د ښائيسته شوي او سمبال شوي اسلوب په وسيله زړۀ ته کوزېږي او لار پکښي کوي. زړونه اړوي،پاره وي ئي، ګرموي ئي اوپه عمل ئي اماده کوي. په ژوند کښي رڼا ګاني شيندي ،ژوند ښائيسته کوي او د ژوند د تېږو لو چل ښائي او په تېره تېره انسان دانساني کچي نه پورته کوي او په روح کښي ئي داسي لاهوتي نغمي غبروي چي د هغۀ ژوند هم نغمه نغمه کوي .

د شاعرئ دغه اثرات دومره ډېر څکه دي چي شاعري يو هراړخيز فن ،کمال،هنراوعمل دے،دبيلابيله او رنګارنګ عنصرونو د ګډون نه دغه عمل پوره کېږي،دغه رنګارنګ عنصرونه چي رايوځائے شي نو شاعري د بوډئ د تال شکل واخلي او بيا د بوډئ د تال دغه رنګونه پخپلوکښي داسي ګډ شي چي د بعضي پکښي لټون او بيا د يو بل نه جُدا کول ګران شي . په دغه اړه د داردو ژبي د ستر نقاد اوليکوال ډاکټر عبادت بريلوي داسي ليکي:

"اس میں شبہ نہیں کہ شاعری مواداور ہیبت،موضوع اور صورت کے متوازن امتزاج کا نام ہے اور یہی اس کے بنیادی عناصر ہیں۔ لیکن اُن کے تحت نہ جانے کتنے اور ذیلی عناصر ہوتے ہیں جن سے خود اِن عناصر کی تشکیل ہوتی ہے۔ بعض لوگ اِن دونون کے درمیان خط کھینچتے ہیں اور انہیں الگ الگ کر کے کچھ اس طرح دیکھتے ہیں کہ جیسے اُن کا آپس میں کوئی تعلق ہی نہیں"(ا)

د شاعرئ په اړه هم دغه پېمانه د پښتو ژبي نازک خياله شاعرکاظم خان شېدا ټاکي اووائي

مضمون د شعر لکه پېکر وي
رنګين الفاظ ئي رخت و زېور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څيزه
پېکر که هر څو دلرباء تر وي

د دغۀ دواړه رائيونه داخبره ډاګې ته کېږي چې شاعري کۀ يوطرفته يو نازک فن دے نو بل طرفته يو سنجيده اوافادي عمل هم دے چې د ژوند او انسان مل او مرستيال دے ــــ

د مضمون او موضوع نه خالي لفظونه که ډيررنګين وي او ډير حسين وي خو تش رنګين وي اوشاړ لفظونه وي مثال ئې دناوې د هغه جوړې وي چې مړي ته اچولے شوې وي . هم دغه رنګ د فن او هيئت نه بغېر خيالونه او موضوعات بې شکه چې اوچت او اعلي خيالونه به وي او د قدر وړ به هم وي خو شاعري ورته نۀ شي وئيلے کېدے څۀ بل څۀ نوم به ورته ورکولے شي. په شاعرۍ کښې ددغه دواړۀ اړخونو نۀ يواځې موجودګي مهمۀ ده بلکې ددواړو ترمېنځه موزون او مناسب يو والے هم لازم دے - هم په دغه اړه ډاکټر عبادت بريلوي داسې ليکې:

"شاعری کے بنیادی عناصر موضوع اور مواد، ہیئت اور صورت ضرور ہیں لیکن اُن کی مکمل ہم اہنگی کے بغیر شاعری کا تصور ہی پیدا نہیں ہوتا۔ کیونکہ یہ ہم اہنگی نہ ہو تو علیحیدہ علیحیدہ اُن کی کوئی حیثیت باقی نہیں رہتی۔ یہ ہم اہنگی نہ ہو تو نہ موضوع کو موضوع کہا جاسکتا ہے اور نہ ہیئت کو ہیئت"(۲)

د ورکړے شوې بحث نه مونږ ته دشاعرۍ دجاج او تنقيد پېمانه او تله په لاس راځي اوپکارده چې هم په دغه پېمانه او تله د شاعرۍ جاج واخستے شي. په پښتو ادب کښې چې د شاعرۍ مقدار که څومره ډير او معيار څومره هم ښۀ دے هغه هومره د څېړنې مقدار او معيار هم کم دے او د تنقيد هم او په دغه دواړه مدونوکښې د نړيوال ادب د سيالۍ او برابرۍ مرام ته د رسېدو له پاره وړد مزل پاتې دے-

شاعرچې په کومه ټولنه او معروض کښې ژوند تېره وي نو د هغې نه اثر اخلي. د هغې ويرونه هم شاعر محسوسوي او د هغې ګډاګانو او د خنداګانو شور هم شاعر محسوسوي او نغمه کوي ئې . شاعرچې د خپلې ټولنې اومعروضي حالاتو تر ټولو حساس او سترګه ور وګړے وي دعام اولس نه زيات دغه محرکات محسوسوي او په خپل شعر کښې ئې ځائے کوي هم ځکه خو ادب پوهان ادب يو ټولنيز عمل ،د ټولنې عکس او د ژوند تفسير بولي او د يو ټولنيز عمل په حېث ئې په لوسته زور اچوي. په دې اړه سليم راز په خپل مشهور کتاب"تنقيدي کرښې" کښې ليکي :

"ادب په معاشرتي ژوند کښې پېدا کېږي او د ژوند سرګرميو نه حرارت او قوت اخلي او وده مومي. د خپل عهد د جمالياتي او سماجي قدرونو عکاسي او نمائندګي کوي.د خپل چاپېرچل نه اثرات قبلوي ترقي پسند خيالات او صحتمند رجحانات خپلوي او مخ په وړاندې ځي او بيا د خپل عمر زاړۀ ،وراستۀ قدرونه غېر صحتمند روايات ماتوي او نوي تازه او توانا قدرونه متعارف کوي او نوي روايات قائموي ځکه نوادب يو موثر سماجي عمل ثابتېږي چې د ضرورت ،افاديت او اهميت نه ئې انکارنۀ شي کېدلے او د سماجي عمل په حېث ئې مطالعه

کول او د تخلیق په وخت ئې په شعوري طور د دې سماجي منصب اوحېثیت خیال ساتل پکاردي--" (۳)

د ادب او ادیب او ټولنې او ژوند او د ژوندو حقیقتونو د تعلق او په یو بل ئې د اثراتو په اړه د اردو ژبې نوموړے شاعر او نقاد مجنون گورکهپوري داسې لیکي :

"ادیب کوئی راہب یاجوگی نھیں ہوتا،اورادب ترک یاتپیاکی پیداوار نہیں،ادیب بھی اس طرح ایک مخصوص ہیت اجتماعی،ایک خاص نظام تمدن کاپروردہ ہوتاہے جس طرح کہ کوئی دوسرا افرد--اورادب بھی براہراست ہماری معاشی اور سماجی زندگی سے اس طرح متاثرہوتا ہے جس طرح ہمارے دوسرے حرکات وسکنات-"(۴)

د دغه رائیو په رڼا کښې ثابتېږي چې شاعر او لیکوال د خپل دور او د خپل عصر د حالاتو سره څومره ژوره رشته لري او ټولنې او ټولنیزو حالاتو او د هغې د عکاسی په ادب کښې څومره اهمیت دے او هم د دغه اهمیت په خاطر په اول کښې په مشرقي شاعرئ کښې یو جدا او ځانگړے صنف پېدا شو چې د "شهر آشوب" په نوم مشهور شو.

د شهر آشوب په اړه د اردو ژبې نوموړے نقاد ډاکټر سید عبدالله داسې لیکي:

"اصطلاحي معنومیں اس نظم کوکهتے هیں جس میں میں کسي شهریاملک کي اقتصادي اور سیاسي بے چینی کاتذکره هو-یاشهر کے مختلف طبقوں کے مجلسي زندگی کے کسي پهلوکانقشه خصوصاهزلیه هجویه انداز میں کهینچاگیاهوں"(۵)

هم دغه رنگ مسعود حسن رضوي ادیب د شهر آشوب د وجه تسمیه په باره کښې داسې لیکي:

"شهرآشوب ایک صنف نظم کانام هے جوابتدامیں ایسے قطعوں یارباعیوں کا مجموعه هوتي تهي جن میں مختلف طبقوں او مختلف پیشوں سے تعلق رکهنے والے لڑکوں کے حسن وجمال اوران کي دلکش اداوں کابیان هوتاهے"(٦)

د دغه ترکیب معني دي د ښار د پاره فتنه او هنگامه او په ښار کښې فتنې او او هنگامې خورونکي او چونکې د دغه پېښه ورو ښائسته هلکانو نه به هم په ښار کښې فتنې او فسادونه خورېدل نو ځکه د دې صنف نوم "شهر آشوب" پرېوتو ــ

د شهر آشوب درې قسمونه دي او هغه دا دي.

هغه شهر آشوب چې په کښې د ښار د ښکلو هلکانو د فتنو خورولو تذکره وي لکه د ترکی ژبې د پخوانو دورونو شهر اشوب .هغه شهر آشوب چې پکښې د سیاسي ،سماجي انتشار، بد حالئ او بې حالئ ذکر وي او د کومې ډېرې فتنه خورونکې واقعې ذکر وي چې اثرات ئې په سماجي او سیاسي او یا اقتصادي حواله ډېر مهم وي هم دا په اصلي معنو کښې شهر آشوب وي چې د سیاسي او سماجي تنقید درجه لري -

د دې دریم قسم هغه شهر آشوب دے چې فقط د هجو په غرض لیکلے کېږي ــ

اورنگزېب قاسمي په خپله مقاله کښې د شهر آشوب گڼ شمېر تعریفونه وړاندې کړي دي او بیا د هغې په رڼا کښې د یو جامع تعریف ورکولو هڅهٔ کړې ده چې د اطمینان وړ دے هغهٔ لیکي:

"شهر آشوب د نظم داسې قسم دے چې پکښې د خپل دور د سیاسي،معاشي او تهذیبي بد حالئ عکاسي شوي وي او دا داسې شاعري ده چې د خپل عصر او دور د روح عنصر پکښې

> د زیات نه زیات موجود وي .د شهر آشوب د پاره د شعر کوم خاص هیئت نۀ دے ټاکلے شوے دا په نظم،غزل ،قطعه وغیره کښې لیکلے کېدے شي" (۷)

پښتو شاعرۍ د پېل نۀ واخله تر دې دمه دارتقاء اوپرمختګ ډېر پړاؤونه ترسره کړي دي اوبې شماره شاعران یې زېږولي دي. نن په پښتو کښې شاعرۍ هغه مقام ته رسېدلے ده چې پکښې د ښۀ شاعر په حېث ځان ته مقام ټاکل داوسپنو نینې چېچل دي . په داسې ادبي فضا کښې چې د سوشل میډیا د عام کېدو په سوب د شعر د جاج پېمانې بدلې شوې او د شعر په مجموعي فضا او تنقید د سطحیت او اوپره والي لړې خورې شوې دي د داسې شاعرانو له پاره چې په شعر کښې د مضمون سره سره د هیئت او فن هم عالمبردار دي او یوه اوږده موده ئې د شعر او ادب پرمختګ او ارتقاء ته بخښلې ده دا یو مهم چېلنج دے چې عامو لوستونکیو ته معیاري او سنجیده شعر ورسوي او د هغوي د شعر ذوق او ذائقه بدله کړي .ډاکټر دیدار یوسفزے په داسې لیکوالو کښې شمارد ے چې یوه وږده زمانه ئې دغه زیار ته بخښلې ده او په شعر ئې کښې د مضمون او فن و هیدئت دواړو د متوازن امتزاج خیال ساتلے دے او د شعر نه ئې ښکاره ده چې هغۀ دغه عمل او زیار ته څومره سنجیده دے.د ډاکټر دیدار یوسفزي د شاعرۍ تر ټولو ښکاره او شوخ رنګ د پښتون قام او پښتنې خاورې د بد مرغۍ او بد حالۍ نوحې دي .د وران شوي او مسخ شوي روڼ مخ ئې مرثیې دي .د وینې وینې وجود ئې په وینو لړلي تصویرونه دي. د تالا ترغه شوو روایتونو په ګور ئې د ماتم ماتم احساس ژړا ژړا انګازې دي. د وران شوي پښتون وطن د کنډر کنډر او کڼ کپر ښارونو او کلیو،جماتونو او حجرو،لارو او کودرو،بازارونو او مېلو شهراشوب دے چې د هغۀ د دردمن زړۀ او روښانه احساس په وینو رنګ دے،د بې وزله او بې څوکه حال ئې غم لړلے تصویر دے او د سباوؤن ئې غم او اندېښنه ده چې که داسې حال وي نو څۀ به کېږي؟ او ولې به نۀ وي ځکه چې ډاکټر دیدار یوسفزي د شاعرۍ دغه موضوع چې د نني حالاتو نه چاپېره چورلي په اصل کښې د ادب او ادیب تر ټولو لویه ذمه واري ده او د دغه ذمه وارۍاحساس شاعر لرلے دے او خپل شعر ئې د خپلې ټولنې،خپل قام او خپل اولس سره سره د خپل دور او عصر ترجمان ګرځولے دے ـ

ډاکټر دیدار یوسفزي د یو سترګه ور او حساس شاعر په حېث خپل معروضي حالاتو او ټولنې ته کتلي دي ، تنقیدي نظر ئې پرې اچولےدے په رنګونو ئې ورله هم شعري تبصره کړې ده او پیکه والي ئې هم په خپل شعر کښې غندلي دي - هغۀ چرته هم د خپل معروضي حالاتو اوچاپېریال نه سترګې نۀ دي پټې کړي اودغه رنګ د هغۀ په شاعرۍ کښې تر ټولو ښکاره او شوخ په نظر راځي. ښکاره ده چې هغۀ په داسې ټولنه کښې ژوند کوي چرته چې قدم په قدم دهغۀ د قامي وجود په ضد سازشونه روان دي،هره ورځ بمې چاودنې کېږي ،هره ورځ قتلونه کېږي هره ورځ زلمي وژلے کېږي،بچې له ژونده لاس وینځي، د مور دارمانونو جنازې پورته کېږي او پېغلې د خپل ژوند سره سره د ژوند داسرې نه هم لاس وینځي او دغه هر څۀ د هغۀ په ګل ګل

خاوره روان دي. د تېرو څو لسيزو نه چې د هغۀ په وطن کښې کومه لوبه روانه ده دغه تړوله قصه اوس څۀ پټه قصه نۀ ده خو د د غه نړيوالې لوبې چې کوم اثرات په دې خاوره مرتب شوي دي او د هغۀ د ښاد او اباد وطن ګونه څنګه ورانه کړے شوې ده نو ډاکټر ديدار يوسفزي دغه د بربادۍ تصوير د خپل شعر د لارې خوندي کړے دے او د تاريخ سره ئې سپارلے دے. په دغه اړه چې هغۀ په خپل نظم "چې دا د چا وطن دے"کښې د دې وطن کوم تصوير راخستے دے نو هغه مکمل حقيقي تصوير دے او د شهر آشوب غوره نمونه ده ـ ډاکټر ديدار وائي:

په غر غنده اورونو
شغله شغله چې ښکاري
په بارودي چاودنو
ايره ايره چې ښکاري
د غم زپلو د ژوند
دا اديره چې ښکاري
چې دا د چا وطن دے
چې دا د چا وطن دے
دي مرور سپرلي تېرې
پکښې خزان دېره دے
د هرې برخې تاوان
ئې په ګرېوان دېره دے
د هر يقين په سر ئې
شته من ګمان دېره دے
چې دا د چا وطن دے
چې دا د چا وطن دے
دے هر يو کور ئې کنډر
هره حجره ئې ورانه
هر يو بازار ئې ويران
هر کوڅه ئې ورانه
هر يو تصوير ئې څيرې
هره څېره ئې ورانه
چې دا د چا وطن دے
چې دا د چا وطن دے
دي وار خطا وار خطا
او در په در ئې خلک
دي وېرېدلي غونډي
اوتر اوتر ئې خلک
ګرځي پښې ابله سر تور
کډه په سر ئې خلک
چې دا د چا وطن دے
چې دا د چا وطن دے
د ماشومانو تنې
په ګولو غار پرتې دي

د شاه زلمو ککرۍ
په هره لار پرتې دي
د پېغلوکو لوپټې بېخې
غار غار پرتې دي
چې دا د چا وطن دے
چې دا د چا وطن دے
(۸)

دغه ریښتوني ،حقیقي او رانۀ تصویرونه هغۀ په خپله شاعرۍ کښې ډېر په خلاص مټ او فني استکارۍ ځاے کړي دي او خپله ادبي فریضه ئې په ایماندارۍ تر سره کړي ده او د یو تاریخ پوهه کردار ئې هم لوبولے دے او دې مهمې نکتې ته ئې هم پاملرنه کړې ده چې چا هم د دې حالاتو د بدلولو هڅه کړې ده نو هغوي هم د عبرت نخښه جوړ کړے شوي دي او چې د هغۀ په تولنه کښې د خبري سړي د ګولو او بمونو په نخښه شوي دي او کوم سماجي انحطا ط رامېنځ ته شوے دے نو هغۀ په لفظونو کښې تصویر کړے دے ـ لکه چې هغۀ لیکي :

مونږ چې په سرو سترګو ژړل د وریت وطن غمونه
چا به مو زړونه ماتول چا به مو خلې ماتې کړې
هم مو جمات شو لوټې لوټې هم حجره ورانه شوه
ظالم زما د فکر ټولې ائینې ماتې کړې
سحر پاټک،غرمه مورچې، ماښام څوکۍ ته ولاړ
زنځیر زنځیر قدم زمونږه د ژوند پښې ماتې کړې
ورور مې ټوپک، پلار مې چاودنې،زوے ټوپک وژلے
دې غبرګو غبرګو جنازو راله اوږې ماتې کړې
(۹)

دغه شعرونه چې د سوات د تېرې بدامنۍ د ورځو په اړه دیو تاریخي دستاویز حېثیت لري،د معروض ژوندے تصویر هم دے او د عصر حقیقي شعور او ادراک هم. چې ترېنه داحقیقت په ډاګه کېږي چې شاعر په ویښو سترګوخپل چاپېرچل ته کتلي دي او د خپل تخلیق د پاره ئې ترېنه مواد په ډېره باریک بینۍ ترلاسه کړي دي-
د ډاکټر دیدار یوسفزي په دې شعري ټولګه کښې دغه موضوع په دومره تفصیل سره خوندي کړې ده چې فقط ساده باده تصویرونه او حقیقتونه پکښې نۀ دي ځاےکړے شوي بلکې د دغه وینو وینو حقیقتونو د شاه لید د کتو هڅۀ هم پکښې په نظر راځي او د د غه حالاتو د ذمه وارو تعین هم پکښې مو جود دے چې د ډاکټر دیدار یوسفزي د دانشورانه نظر د کره والي اندازه ترې هم په ښۀ شان کېږي په لاندیني "شهر اشوب" کښې دغه کامیابه هڅه ښکاره ده :

ایمان ئې د مرګونو په ثواب راوړے دے
بادار زمونږ په لوري لوے عذاب راوړے دے
تۀ اوګوره په تور د ترهه ګرۍ باندې مې وژني

دې یـــو رالـــه ټـوپـــک او بـــل نقـــاب راوړے دے
ګـلـونـــه د ســـپـرلـي ژاړي زمـــا د زړۀ لـــۀ دردہ
مـا بـیـا پـه ویـنـو سور کـــور تـــه ګــلاب راوړے دے
تـالان ئـې پـه سر داسـې د فـتـنـــو او د فـتـــوو دے
ښکـارېږي چـــې پـښـتـون چرتـــه دریـــاب راوړے دے
زۀ مـرمـه ولـې مـرمـه پـه ځۀ مـرمـه ځـــو بـــه مـرمـــه
زمـا دې ویـنـې ســوال لـــه چـــا جـــواب راوړے دے؟
(۱۰)

د معـروض دغـه دردونـه هغـه پـه خـلاص مـټ پـه خپـلـه شاعرئ کښې ځـائـے کـړي دي اوچې د هغۀ معـروض او ټـولـنـه نـوحـه نـوحـه وي نـو دهغـــۀ شـــعـر هـــم نـوحـه نـوحـه شوے پـه نظر راځي او داخبـره سل پـه سلـه صـحـیـح ثـــابـتـوي چې ادب د ژونـد عکس او ائـیـنـه ده. پـه یـو بـل نـظم کښې چـــې د "کـــرب" تـرسرخط لانـدې لـیکلـے شوے دے دغـه نـوحـه نـوحـه مـاحـول او معـروض د هغـۀ شعـر هم نـوحـه نـوحـه کـړے دے او هغـه کـرب اواذیـت یـــې ټـــول پـــه ټـولـه پـه لـفظـونـو کښې ځـائـے کـړے دے د کـوم نـه چې هغـۀ تـېـــر شـــوے دے هغـۀ لـیـکـي:

څـوک چې اسلام راولـي، دے ئـې نـیـازبـیـن خو نـۀ وۀ
ستـا بـابـا جان پـښتون وۀ،د دوي پـه دیـن خو نـــۀ وۀ
چې ئـې اسلام زبـادلـے،دومـره ســنګـیـن خـــو نـــۀ وۀ
د پـښتـونـخواه شهـیـد وۀ، د فـلـسـطـیـن خـــو نـــۀ وۀ
د پـښتـنـو تـپـوس لـــه دوي پـــه قـــران نـــۀ راځـــي
تـصویـر دې بـېـرتـه یـوسه ستـا بـابـا جان نـۀ راځـــي
(۱۱)

او بـیـا پـه دې نـظم کښې د هغـۀ قـلـم د خپـل قـام پـه حـــق کښـــې لـکـــه د تـوري راپـورتـه شي او د مـزاحمت رنـګ خپـل کـړي چـــې د درد او ولـــولـې بـڅري تـرې دانـګي او پـه هغـوي کښې د خپـــل قـــام اواولـــس د قـاتـــل د لـټـون احساس راپـېـدا کـوي

ســـتـا بـابـــا جـــان بـچـیـــه دې سیـاســـت وژلـــے
دا چـــې پـــه ســـتـرګـو ړونـــد دےدې ریـاســـت وژلـــے
دا چـــې پـــه غـــوړو کـــوڼ دے دې عـــدالـت وژلـــے
دا چـــې خپـــل زور ځـنـــډوي دغـــې طاقـــت وژلـــے
د کـــربـلا پـــه زمکـــه د نـــوح طـوفـــان نـــۀ راځـــي
تـصویـر دې بـېـرتـه یـوسه ستـا بـابـا جان نـۀ راځـــي
(۱۲)

پـه دغه نـظم کښې نـۀ یـوازې دا چې د حالاتـو د سنګیـنـئ ذکر دے بـلـکې ډاکـټـر دیـدار یـوسفـزي پـکښې د خپـل مظلـوم قـام او اولـس پـه حـــق کښـــې هغـۀ خبـرې کـړې دي چې ډېـر د لـوئـې حوصلې غوښتنـه کـوي او هر څوک ئـې د وئـیـلـو تـوان نـۀ لـري ـــــ داسې ښکـاري چې ډاکـټـر دیـدار د خپـل وطـن پـه زمکـه د روان نـاوریـن نـه دومـره ډېـر او دومـره ژور اثـــر اخســـتـے دے چې د هغـۀ پـه شعـور او لا شعور کښې نـور ځۀ او بـل تـاثـر ډېـر کـم پـاتـې شوے دے او هغۀ د یـو ریـښـــتـونـي قـــامـي مـبـــارز پـــه حېـث خپـــل قـلـم،خپـل فـکـر او فـن دغـه لـوئـې قـامي مـبـارزې تـه وقـف کـړي دي او چـــې

کله هم ورته د شعر الهام کېږي نو د خپل قام اولس خبره ئې په لاشعوري توګه په ژبه راځي او زما د دې خبرې تصديق د هغه د نظم "دلته مۀ راځه اختره" نه په ښۀ شان کېږي او دغۀ نظم په دې موضوع دومره زوراره حواله ده چې زۀ ئې دلته ټول راوړل ضروري ګڼم دغۀ زما په خيال د" شهر آشوب "شهکار دے ـ

ستړګې پټې کړه تېرېږه
د کوفې د نصيب نمره
دلته ستا د اتڼ څوک دي
دلته مۀ راځه اختره
دلته لامبي په سرو وينو
د احساس د بڼ لولکه
دلته سور دوزخ پيئلې
د جنت د باغ نېنزکه
دلته وژني ملحدان لا
د ښائست د دين ملکه
دلته اوس تراخه بارود خوري
د دې غرونو سور سرکه
دلته زانې په قطار شي
غواړي لار د ښاپېرکه
دلته ژوند دے ساندې ساندې
نۀ رباب شته نۀ سندره
دلته ستا د اتڼ څوک دي
دلته مۀ راځه اختره
هره ستركه د يعقوب ده
هره خله د الم ډکه
فرښتې دي غريو نيولي
د بابا غېږه تړي وركه
څۀ تور سرې په ماتم دي
څۀ سر تورې بې ناوكه
څۀ بې څوكه بابا ګان دي
ګيله من دي د فلكه
څۀ ګلونه په دار شوي
څۀ ګلونه بې دركه
بخت زمونږه زيړې پاڼې
ځۀ سپرلو له بختوره
دلته ستا د اتڼ څوک دي
دلته مۀ راځه اختره
دلته غبږ د سقراط ژوند دے
دلته سوال سورى كونجكه
دلته ګرځي وحشتونه
په سره منډه په چورلكه
دلته سپي لا ازمري اوړي
په رڼا ورځ له كنډكه

دلته لوبه د غولتی ده
د موخې نه تر څنډکه
دلته څومره پابندی دي
څه خبر ئې زور وره
دلته ستا د اتڼ څوک دي
دلته مه راځه اختره
دلته مینې ساه ورکړې
دلته راج کوي اوس کرکه
هر ګودر ئې مقبره ده
هره لار ئې پېریانکه
چېنه سره توده بهېږي
چېنارونه سره غومبکه
څوک چې غبر کوي غدار شي
وي نسکوره پرې دا زمکه
د ظالم خلۀ زهرژنه
وېشي مرګ لکه لټکه
زۀ دیدار لکه بت ناست یم
زړۀ مې چوي په نۀ خبره
دلته ستا د اتڼ څوک دي
دلته مه راځه اختره
(۱۳)

په داسې حال کښې د دې قام د تاریخ شاید تر ټولو حساس او نازک دور دے چرته چې د دنیا تر ټولو لوے ازمېښتونو او شازشونو د هغوي او د هغوي د خاورې مخه کړې ده او دا قام ذهني طور د دغه ازمېښتونو او سازشونو د مقابلې کولو په موثر چل نۀ پوهېږي. وحدت ئې تار تار دے او د علم او عمل پکښې فقدان دے په مجموعې توګه د قامې او ملې سوچ پکښې کمے دے او د نوي دور ستونزو ترې یو دوه خطا کړي دي چرته د مشر نه محرومه دے او که چرته مشر ئې لرلے دے چې د مشرۍ اهلیت لري نو دوي د اغیارو په سازش داسې تور کړے دے چې تر قیامته ئې سپینېدل ګران دي ،چرته په یوه نعره پسې شوي دي او چرته په بله نعره پسې شوي دي خو د هر مېدانه او هره دره ئې بې له تاوانه او بې له زیانه څۀ ئې په لاس نۀ دي راغلي او نتېجتا په مجموعي ډول د ابترۍ او بد حالۍ ښکار دي او دغه صورتحال ته چې ډاکټر دیدار ځیر شوے دے نو د تخلیق نه ئې هم دغۀ مواد زېږېدلي دي چې د هغۀ خوا او شاه عملا موجود دي ـ په ""اسمانه" نظم کښې دغۀ کېفیت په انتها دے

په سلګو یمه ساه اخلمه په ګرانه
تۀ مې وینې وینې تن وینې اسمانه
د بادار د تورې لومې انتقام یم
د یوسف غوندې په خپل ښار کښې نیلام
یم
دا نظام د قصابانو خېلخانه ده
زۀ اندام اندام ئې نوستے په هر

ګـــام يـــم
غبر مې نۀ رسي دنيا ته لـه زندانـه
تـۀ مې ويني ويني تن ويني اسمانه
کربلا څۀ ده اووښـتـې پـه محشر يـم
زۀ پښتون لـه خپله ژونده لاس په سر
يــم
د حسېن غوندې مې تن په وينو چاڼ
دے
چې لا مل د يزيد نۀ يم ترهه ګر يم
زړۀ مې چـاودے لـۀ ډېـر غمه لـه
خفګانـه
تـۀ مې ويني ويني تن ويني اسمانه
زما ژوند زما پښتو زما سکون مري
د قارون او د قانون په تورو لاسو
په رڼا ورځې ګلاب ګـلاب پښتون مري
زما وينه ده د اوبو نه ده ارزانه
تـۀ مې ويني ويني تن ويني اسمانه
زورور مې د لېوانو په لښکر خوري
په پردي شر کښې مې غوښې پـه اشر
خــوري
دا قيامت د قتل عام که دلته عام
شــي
دا فرعون فرعون خدايان به پکښې سر
خــوري
بيا دې هيڅوک ګيله نۀ کوي لـه ما
نــه
تـۀ مې ويني ويني تن ويني اسمانه
(١٤)

دغه رنګ د دې قام او د دې وطن دغه شهر آشوب او د بربادی تصوير هغۀ يو لمحه هم په ارام نۀ پرېږدي او نۀ هغۀ د دغۀ وينو وينو حالاتو په ماتم او نوحو ستړے کېږي او په بيلا بيله پېرايو کښې کله د يوې زاوئې نه او کله د بلې زاوئې نه دغۀ حالات پلټي او په خپل شعر کښې ئې ځاے کوي داسې چې په بې حسه زړونو کښې د احساس د اور بڅري پېدا کړي او د خپل حساس زړۀ په غم کښې ئې شريک کړي او د نړی په وړاندې د خپل قام.اولس او خپلې خاورې مقدمه په موثر ډول پېش کړي په بل نظم "شمله"کښې دغه شهر آشوب داسې تراشي:

زۀ د وخت بې رحمه او وحشي لاسو
ځاے په ځاے غوڅ کړے او نيم کړے يم
بيـا انا پرسته طبقاتي فکر
نور هم ټوټې کړے تقسيم کړے يم
(١٥)

د دې وطن په هره هغه برخه کښې چې چرته چرته انسان اباد دے او ژوند کوي هلته هلته انسان زورلے شوے دے،زپلے شوے دے ،وژلے شوے دے او په خپلو وينو لمبولے شوے دے او وژلے شوے دے. کراچۍ ښار کښې ګڼ شمېرانسانان ژوند کوي او د دې ښار د رڼاګانو له پاره ئې خپلې وينې بلې کړې دي دلته چې د پښتون قام سره وخت په وخت کوم سلوک شوے دے هغۀ هر چا ته ښکاره دے خو د ١٢ مۍ خونړۍ واقعه ټول قام ژړولے دے او داسې ښکارې چې ډاکټر ديدار چې خپلې اوښکې پاکې کړې دي نو دغه حالات ئې هم خپل قامي تاريخ ته په پوره ذمۀ وارۍ سره سپارلي دي -

څادر موچا سېځلے چا شړی په کراچۍ کښې
ملګرو چا مو خاورې کړې ځوانۍ په کراچۍ کښې
دا څوک وۀ چې نقاب ئې وۀ په نمر باندې خور کړې
دا څوک وۀ چې وژله ئې سپوږمۍ په کراچۍ کښې
چا لاس وو پړقولې او چا سوک وۀ ځنډولے
چا اور ته وۀ سپارلې يو مۍ په کراچۍ کښې
زمونږه اوښکو کړې جنازې د ګلابونو
زمونږ سپرلي وهلي تل ږلۍ په کراچۍ کښې
بې څوکه بې تپوسه ووم چا مړ کړمه چا ښخ کړم
چا واخستې زما په سر روپۍ په کراچۍ کښې
زما په وينه ګرم شي بازار د دلالانو
زما په سينه يخه شي ګولۍ په کراچۍ کښې
ديدار د رڼا په ښار کښې څومره بې حسي وه
هيچا نۀ اورېدې زما سلګۍ په کراچۍ کښې
(١٦)

د موجوده وخت د ناکړدو او ازمېښتونو له کبله چې په مجموعي ډول د هغه د قام او خاورې کوم حال شوے دے او د کوم کرب او بې وسۍ د اذيت نه په مجموعي ډول تېرېږي ډاکټر ديدار د دغۀ مجموعي حالاتو مشاهده هم کړې ده او د دغه بدحالۍ او بې وسې ژوندي منظرونه ئې هم په خپله شاعرۍ کښې داسې تصوير کړي دي چې زړونه غوڅوي.ياده دې وي چې دغه هم د شهر آشوب خاصه ده :

د وخت په دوړو کښې شوم دوړه خپل
انځور نۀ لرم
په خپله خاوره چې د خپلې برخې کور
نۀ لرم
سلګو ته ما وئیلي ساه،خپل ځنکدن
ته ژوندون
زۀ د ژوندون په انغري کښې هډو اور
نۀ لرم
د ژواک مرۍ مې خفه کړې د وحشت
خپسو
ځکه به مرم چې د امکان په ژبه شور
نۀ لرم
چې به په تار د نظر ما ولې کول
وختونه
له هغۀ توانه یم پرېوتے هغۀ زور
نۀ لرم
د ځان ځانۍ په لور روان دي رانه
کېده نغاړي
چې زما غم پرې وۀ ماتم اوس هغۀ
ورور نۀ لرم
(١٧)

او یا لکه په بل ځاے کښې لیکي:

د بارودو اژدها مې ګلدرې خوري
دا قصې قصې وطن رانه قصې خوري
په دې خاوره کښې خواړۀ د احساس نۀ
مري
تور وېنۀ مې د کلتور چوکاټ په دې
خوري
د ټول کلي نه حجرې په کېده لاړې
د جمات ممبر مې ځکه عقیدې خوري
یا مو ژوند لکه میخونه د بوټانو
یا ملا مو په خوند رنګ کله خورمې
خوري
د مرګونو سور سېلاب په مخه یوړل
پښتانۀ په خپلو وینو کښې غوپې
خوري
زما زړۀ لکه دیپک سوځي دیداره
د جنګ راګ مې د اتڼ په شاه نغمې
خوري
(١٨)

د ډاکټر دیدار د شهر آشوب کمال دا دے چې که هر څومره د هغۀ د خاورې او قام دردېدلے او ژړېدلے دے او ورسره پخپله د هغۀ زړۀ

هم وينې وينې دے خو د هغۀ پښتون مزاج هغۀ بيا هم د دغۀ اورونو او ويرونو په چم کښې فقط په تشو غمېزو ليکلو ته نۀ پرېښودے او ورسره ئې په داسې رنګ کښې مزاحمت او پاڅون ملګرے کړے دے چې هغۀ ټول په ټوله د انقلاب مطلع ښکاري:

پښې ابله څوک په لر او څوک په بر
راپسې ګرځي
بدن مې داسې ورک دے چې خپل سر
راپسې ګرځي
د وخت د پاړوګانو څۀ کافرې اجازې
دي
خپل ورور راپسې بيم وهي منتر
راپسې ګرځي
زۀ هم په دې بازار لکه د کوڼ کودي
خرڅېږم
د کلو بنجاريان شو سوداګر راپسې
ګرځي
د کوم چېنار د لاندې چې وعدې د
ژوندانه وې
مرګے په هغۀ لاره اوس اکثر راپسې
ګرځي
زما د وينو ګوټ د عقائيدو تبرک دے
ديداره د ثواب سترے لښکر راپسې
ګرځي
(۱۹)

چې داسې حال وي او داسې منظر وي،داسې نقشې وي او داسې حادثې وي نو په داسې حال کښې يو حساس شاعر څنګه کولے شي چې دا نقشې او نۀ ليکي او په داسې حال کښې چپ پاتې شي او دغۀ وجه ده چې ډاکټر ديدار هم د څۀ مصلحت نۀ دے ښکار شوے او د خپل زړۀ خبره ئې په جار کړې ده:

د چاپېرچل په ترورمې کښې دا
زوړندې توري
چې مې په سر داسې ځنګېږي زۀ به
ډېر څۀ وايم
د فرعوني نظام کرکژني خونړۍ پنجې
چې
زما په رګ رګ کښې ښخېږي زۀ به ډېر
څۀ وايم
دغۀ قانون لکه بادار غوندې
پرانستې تنۍ
چې د فرعون غېږې ته لوئيږي زۀ به

ډېـــــــــــــر ځـــــــــــــــــهٔ وایـــــــــــــــم
پــه خپـل قـلـم لـیـکـم د قـام د  گـوټ گـوټ
ویـنـــــــــــــــــــــــــــــې حســـــــــــــــــــــاب
تـر څـو چې دا ویـنــې تــوئـېږي زهٔ بـــه
ډېـــــــــــــر ځـــــــــــــــــهٔ وایـــــــــــــــم
(٢٠)

د دغـه بـېـلـگـو نـه دا خـبـره ثـابـتـېږي چې ډاکټـر دیـدار یـوسـفـزي د خپـــل دور د خپـل  وطن د سیـاسي،مـعـاشي،سمـاجي او تـهـذیـبي بـد حـــالـی نـقـشـــې ،مـنـظرونـه،حقـیـقـتـونـه او منظرنـامې ډېـر پـه بـاریـــک بـیـنـــی  او فـنـنـــي استـکـاری پـه خپـل شعـر کـښي پـه ډېـر خلاص مټ ځـاے کـړي دي او د یـو ویـښ او سترگـه ور شـاعـر پـه حېث ئې خپـلـې ذمـهٔ واري تـر سـره کـــړې ده او دغـهٔ هـر څـهٔ د یـو غـوره شهـر آشوب د پـاره ضروري وي او دغـــه رنـــگ د هغـهٔ پـه شاعری کـښي مـوجـود شهـرآشوب د پـښتـو شـاعـری پـه شهـر آشوب کـښي د اولـې درجې شهـرآشوب دے او پـه راروان دور کـښي بـه ئې پـه تـاریـخي ،سیـاسي او سمـاجي اهـمـیـت نـور هم سېوا کـېږي -

# ماخذونه


1. عبادت بریلویؔ، ڈاکٹر، شاعری کیا ہے؟ لاہور، ادارہ ادب و تنقید، ۱۹۸۵ء، ص ۱۰
2. ایضاً، ص ۱۱
3. سلیم راز، تنقیدي کرښې دویم ځل، پېښور، بلال شاه پرینټنګ ایجنسي، ۲۰۰۰، مخونه ۲۲، ۲۳
4. گورکھپوری، مجنون، نکات مجنون، کراچی، مکتبہ عزم و محل، ۱۹۶۶، مخ ۵۵۔
5. بحوالہ، اورنگزیب قاسمی، اردو شاعری میں صنف شہر آشوب، تحقیقی مقالہ ایم اے اردو، شعبہ اردو، مسلم یونیورسٹی علی گڑھ، ص ا
6. مسعود حسن رضویؔ، ادیب، شہر آشوب، نقوش شمارہ نمبر ۱۰۲۔
7. قاسمی، اورنگزیب، اردو شاعری میں صنف شہر آشوب، ص ص ۲، ۳
8. شوکانړے، ډاکټر دیدار یوسفزے، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز، ۲۰۱۸، مخونه ۴۲، ۴۳.
9. هم دغه، مخ ۲۷
10. هم دغه مخ ۱۰
11. هم دغه مخ ۱۶۰
12. هم دغه مخ ۱۶۱
13. هم دغه مخونه ۱۷۳ تا ۱۷۶
14. هم دغه مخونه ۲۳۶ تا ۲۳۷
15. هم دغه مخ ۱۸۸
16. هم دغه مخ ۲۰۱
17. هم دغه مخ ۲۳۸
18. هم دغه مخ ۲۳۳
19. هم دغه مخ ۲۸٤
20. هم دغه مخ ۱٦۸